نجیب منلی

۲۰۱۸/۰۲/۱۲

# د یویشتمې پېړۍ بت پرستان

د حمید بابا د قبر شناخته يي هم و نړوله.

تر دې د مخه يي د رحمان بابا، خوشال خان، حمزه ... پر شناختو غزا کړې وه.

تر هغه د مخه يي د بایزید روښان مرۍ په سیند لاهو کړی و.

دا خلک ځومره سپېڅلي ایمان داران دي.

دا مړي خو د دوي ایمان ته یو بې ساري ګواښ و.

دوی د بامیانو پر بودا هم د خپل ایمان باروت ختم کړي وو. هغه تیرې چې خوارلس کاله یي د سپېڅلي اسلام تر سیوري لاندې د یوه وياړلي تاریخ کیسې کولې، د دوی له ایمان سره چپرته جوړېدې.

د دوی ایمان خو تر ښیښې نازک دی.

په غره کې یوه تیږه، په هدیره کې یوه شناخته، په کوڅه کې د یوې ښځې د پښو ښکالو یي ورته له خاورو سره خاورې کړي.

پرېږده چې دا اتلان مو له مړو او له تیږو سره اخته وي.

چې له مړو مو دومره ډارېږي نو ژوندي خو به مو ضرور ورته بلاوې ښکاري.

د یویشتمې پیړۍ بت پرستانو ته دې د مړو پر وژلو زر ثوابونه ور په برخه شي.

د عدويي رابعي، منصور حلاج، سنايي، عبدالله انصاري، بلخي رابعي، عطار، د بلخ مولانا، روښان پیر، خوشال، رحمان، حمید، حمزه او زرګونو نورو وياړلو انسانانو مړي مو دوی ته وربخښلي دي.

زموږ يي له فکرونو سره کار دی،

موږ به يي له فکرونه او خیالونه لمانځو.

زموږ ایمان زموږ په زړونو کې خوندي دی. دوی دې د خپل ایمان خیر په هدیرو کې تولوي.

هر گز نمیرد آنکه دلش زنده شد به عشق

ثبت است بر جریدهٔ عالـم دوام ما